مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حافظ احمد نصرت ۲۰۱۸/۰۴/۰۵

افغانستان د نړیوالې مافیا په لومو کې

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د نړیوالو د ګټو او سیاسي اهدافو ښکار سوي نړیوالو تل هڅه کړې چې دا د دنګو غرونو، شنو درو،او اتلو میړونو وطن د جګړو لومه کړي

کلونه کېږي افغانان وژل کېږي کله په یو نوم او کله په بل نوم تروریږي بیلابیلې ټاپې پرې وهل کېږي ښکلي ځوانان مو په ځوانۍ، ماشومان مو په ماشومتوب د مور او پلار له مینه بې برخې پاته کېږي حتا ښځې،سپین ږیري او د وطن مینډې مو بورې کېږي.

آخر ولې؟ او تر کله به وژل کېږو د دې معصومو او بې چاره افغانان ګناه څه ده؟ اې! دنړۍ قدرت لرونکو خلکو تاسې له موږ څه غواړي زموږ په وژلو تاسو ته څه په لاس درځي

په مدرسو، جماعتونو، ښوونځیو، د خوښۍ مراسیمو، فاتحو او هدیرو کې لا افغانان په کراره پاتې نه دي د افغان وژنې دا پروسه ډیره اوږد مهاله سوه او کلونه وخت یې ونیو که وپوښتل سي چې ولې؟ نو د اکثرو ځواب به دا وي چې دې کې د بهرنیان لاس دی او هغوئ افغانان خپلو کې په بیلابیلو نومونو شکېل او افغانستان یې د خپل لوبو ډګر ګرځولی دی

په دې کې شک نسته چې نړیواله ټولنه او د نړۍ یو شمېر هېوادونه له افغانستان سره په اړیکو کې له مختلفو شیوو کار اخلي او خپل له دوه مخې سیاست څخه ګټه پورته کوي دا یو څرګند حقیقت دی چې په سیاسي لحاظ افغانستان د نړیوالو په لومه کې دی له امریکا تر برتانیا روسیې هند، چین، پاکستان او ایران ټول له افغانستان سره د اړیکو لرلو ترڅنګ ګڼ شمېر سیاسي اهداف لري په سیاست کې دا څه ډیره روښانه او ساده دې که دیپلوماټیکو مسایلو ته راسو هر هېواد په متبوع هیواد کې استازي لري سفارته خانه لري او سفیر یې د هېواد ملي ګټو او ارزښتونو ساتنه کوي خو د دې سره یو لړ مسایل سته چې یاد استازي یې باید ترسره کړي او خپل هیواد دملي منافعو دساتلو په موخه یې له خپلو مسولینو سره شریک کړي

زه ډیر د ډیپلوماسي اړخ ته نه ځم ولې دا منم چې هېواد مو د نړیوالو مافیا ښکار دی له چیچنې نیولې تر پاکستاني، هندي، ایراني،امریکائي، روسیې انګریزي پورې د افغانستان په روان وضیعت کې شکېل دي او افغانستان یې د خپلو سیاسي لوبو ډګر ګرځولي دی او د افغان وژنې ګڼې پروژې یې په بیلابیلو نومونو راپیل کړي دي هغوئ د پروژې د ګټلو او بایللو پروا نه لري ځکه که د دوئ پروژه ناکامیږي یواځې مالي زیان ویني ولې په لویه کچه قرباني افغانان ورکوي دلته افغانان په سر او مال زیان ویني او دا قرباني له کلونو راپه دیخوا پیل او لا هم دوام مومي دطالب، داعش، حقاني شبکې او نورو ډلو ټپلو که د اوسني حکومت په چوکاټ کې دي او که د هغوئ سره په مخالفت کې زیان یې یواځې افغان ولس ته رسیږي

په دې ورستیو پیښو کې ټولو ته په ډاګه سوه چې یواځې قرباني افغانان ورکوي او هېواد مو دنړیوالې مافیا په لومو کې دی او همدا مافیا ده چې افغانستان یې په مختلیفو قومونو، حزبونو ویشلی او افغانان د دې پرځای چې د سولې، یوالي او افغانستان رغولو لپاره ګډ کار وکړي په خپل منځي ستونزو کې راګیر کړي دي چې دې مسایلو دافغانستان او افغانانو ملا ماته کړي ده او دې لړۍ کلونه وخت ونیو.
د دې ټولو ستونز د ختمیدو او یو باثباته له جنګ جګړو خلاص افغانستان خوبونه هله رښتیا کیدلې سي چې په خپلو کې یو سو او په یو سترخوان کښېنو او وینه تویونه بس کړو او دهر پردي پر وړاندې په یوه دریځ کې واوسو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو کیږو ګڼي ورکیږو:
د افغانانو دداخلي منازعاتو دحل او نړیوالي مافیا د لومو څخه دخلاصون یواځني لار دافغانانو یوالي،اتفاق خپلو کې سوله کول دي او ددې کار په ترسره کولوباید ټولي نړۍ ته دا څرګنده کړو چې موږ جګړه نه غواړو جنګ خوښوونکي نه یوو او روانه جګړه بهرني ده او پر افغانانو ټپل سوې ده
دیوه باامنه او په ځان بیسا افغانستان په هیله
په درنښت
لښګرګاه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ